
ع ، اتمانزی ۲۰۱۰/۲/۷

# آیا برهان الدین ربانی پیژني ؟

برهان الدین ربانی د افغانستان د اسلامی جمیعت ډلې مشر او په خټه بدخشی تاجک دي .
د ۱۹۵۸ کال نه راپدې خوا د ( اخوان المسلمین ) د سازمان غړی دي. نوموړی د پښتو پرته په پنځو ژبو پوهیږي لکه : فارسی ، عربی ،اوردو ، انګریزي ، ترکي که څه هم په ښکاره یو روحانی او مومن مسلمان ته ورته دي خو له اخلا قي پلوه یو د کرکې وړ او بد اخلاقه سړی دي چې خپلې کړنې یې د اسلام ساتونکي تر پوښښ لاندی پټوي د نوموړی بی لاري توب د هغې د ځوانی د هغو کالوڅخه راپیل شو کله چې یې د کریم بای له کورنی سره چې هغه مهال یې د بد اخلاقي نوم په ټول هیواد کې خپور وه اړیکې ټینګ کړل.
د کریم بای په کورنی کې به ډیرځلي یو لړ داسي رومانتیک ماښامي او بنداړونه جوړیدل چې تل به یې په تور سرو تنکیو او صغیرو نجونو باندي پر تیري پای ته رسیدلي وي.
نوموړی د ۱۹۷۸ کال راپدې خوا یو لوی سوداګر وه چې غالي به یې بهر ته استولي او په قاچاقو بوخت و ده په پاکستان کې د چرګانو، غالي ابدلو،او ټوکرانو فابریکي لري چې لدې درکه هر کال تر(۲۰) میلونوپاکستانی روپی ګټه تر لاسه کوله، د نوموړی د ګټي او پیسو پیدا کولو بله چینه د قاچاقي مالونو



او نیشه یي موادو سودا ګریزي بوختیاوي دي چې په ایران او پاکستان کې د خپلې ډلې باند د مشرانو د لارې ترلاسه کوي. بر سیره پردې نوموړی د بدخشان د لاجوردو او د پنجشیر د زمردو په قاچاق کې هم پراخه ونده لري چې لوی دلال یې محراب الدین مستان دي ده په ډیره بی شرمي او سپین سترګي سره د خپلو پټو شرکتونو په مټ هغه پیسي چې افغانی کدوالو ته استول کیدي، ده خپلو بانکي حسابو ته لیږدولي د ساری په توګه یوازی د ۱۹۸۸ کال تر پایه او د ۱۹۹۹ کال د پیل په شپږ میاشتو کې د امریکا او اروپایي هیوادو په بانکونو کې د ((طفیل محمد)) په نوم دهغې پر شخصی پیسو باندي (۶۰۰) میلونه پاکستانی کلداری ور زیاتي شوي، دغه راز د نوموړی تر ولکې لاندې د پاکستان د آدم خیلو دري او چراټ په سیمو کې هم د هیروئینو جوړولو لابراتورونه په کار بوخت وه ، ربانی د هغو جنګیالیو دریمه برخه چې افغانستان ته استول پر نیشه یي مادو اخته کړای شوي وه په افغانستان کې تولي مهمي دندي د روغتونونو سوزول، د ځاګانو مسموول ، دبیګناو خلکو وژل، د خلکو پر کورو داړي غورځول، لوټماري همدا جنګیالیو ته د ربانی لخوا ورسپارل کیدي او تل یې هڅه کوله چې د انټر پول د نړیوالو پولیسو له سترګونه په دادمنه توګه پټه کړي .
پدې ورستیو کې د هغې ( ربانی ) د وطني ضد کړغیرنې خیري څخه یو بله توره پرده د آزادی رادیو لخوا پورته شوه چې وطن وال یې دده په ناولو او لوغړونو پلانونو څخه خبر کړل او هغه څه یې تر سره کړل چې تاریخ پرې شرمیږي.
د ازادی رادیو خپرونه : ۲۵ / ۱ / ۱۳۸۸
برهان الدین ربانی ۹ کاله مخکې د خپلې واکمني پر مهال د آریانا افغان هوایي شرکت الوتکه په غیر قانونی ډول د ۲۰۰۱ کال د جون پر دویمه نیټه د ایران پر کسپین کمپني په څلورنیم لکه امریکایي ډالرو پلورلي ده. حال دا چې دغه الوتکه په ۱۹۸۰ کال په دري سوه لکه امریکایي ډالرو د روسیې څخه اخیستل شوي و، پدې معامله کې انجینر عبدالرحیم سیدجان چې په ډیر تاسف سره د کرزی لخوا په نوی کابینه کې د کډوالو د وزیر په توګه نومول شویدي لاس درلود.
دغه الوتکه د خپلې بیې په څه د باندې ۲۹۵ لکه امریکایي ډالرو ارزانه پلورل شویده .
الوتکه په ۳۰ زره فټه لوړه کې د الوتنې توان لري ، ۱۰۰ ټنه بار لیږدوي اوTu = 154 M
۱۸۰ تنه مسافرو د لیږدولو توان لري، دا بوینګ ۷۲۷ معادل د هغه مهال بلل کیده. د پژواک د خبري اژنس په حواله کله چې ربانی مزارشریف ته خپل موقت پلازمنه و ټاکه د ۲۰۰۰ کال د جون به میا شت کې د( ۰۲۵) نمبر مکتوب


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

له مخي د رباني پر لاس ليک عبدالرحيم سيد جان ته د الوتکی د خرڅلاو معامله وروسپارل شوه . ددوي پر وينا دا څلورنيم لکه تر لاسه شوی ډالر هيڅ يو دولتی بانک ته ندي تحويل شوي په غالب گمان سره لکه د پخوا پشان شخصی بانکو ته ليږدول شويدي، خو کله چي د ربانی څخه پدي اړوند وپوښتل شوه چي دا څرنګه بی رحمانه سلوک د بيت المال د لوټولو له پاره تر سره شوي ؟ هغي دا غر او بل غر ويشته (( او وويل چي ۹ کاله مخکي پر مسله اوس خبري هيڅ مانا نلري.)) عبد الرحيم وايي چي ده دا هر څه د ربانی په امر تر سره کړي.
گرانو وطن والو : وگوري او قضاوت وکړي چي پرون يي د خلکو د غولولوله پاره د بيت المال ساتني دېری په سيني وهلي خو کله چي واکمن شوه د بيت المال د شتمنيو سره به څه ډول بر رحمانه چلند سرته رسوي. تر اوسه پورې د ( ۳۰۰ ) لکو امريکايي ډالرو سر نوشت معلوم نشوه ددي پشان په زرگونو داسي چلندونه او چلواټه ددي نقاب پوښو حتی د وطن د خرڅلا تر حده پورې تر سره شوي چي انسان او انسانيت پرې شرميږي .
اوس دی گران وطن وال پريکړه وکړي چي د داسي يو لاربنود سره څه کول په کار دي ؟
= نړيوالي محکمي ته وروپيژندل شي ؟
= دا پيسي د گټي سره د دولت بانکو ته تحويل شي ؟
او يا څه نور کول په کار دي ؟
ماخذ :
آزادی راډيو ۲۵/ ۱۰/ ۱۳۸۸ خپرونه
ليا خوفسکي الکساندر ليويچ ،د افغان غميزه او ميرانه د افغانستان د کلتوري ودی ټولنه * ۱۳۷۸ جرمنی


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de